الدرس الثانی
دوهم درس

قصة الفيل
د هاتيانو واقعه

یمن کښې د نجاشي بادشاه د طرفنه ګورنر أبرهه وکتل چې عرب مکې مکرمی ته ځي ، او د کعبې شريفې طواف کوی ، او حج کوی ، د هغې عزت کوی ، او د لرې لرې نه ورته خلق راځي ، نو ده په صنعاء کښې یوه لویه کلیسه جوړه کړه ، دی دپاره چې خلق د مکې مکرمی په ځائ د حج دپاره صنعاء ته راځي ، د کنانه قبیلې یو سړی خبر شو هغه د شپې لاړو او دغه کلیسی ته ورداخل شو ، او د هغې دیوالونه ئې په لوئې اودس ماتې باندې ګنده کړل ، هرکله چې ابرهه ددې خبرې نه خبر شو نو د غصې نه لمبه شو ، او شپیته زره (٦٠٠٠) لښکر ئې تیار کړو ، او ورسره نهه (٩) هاتیان وو ، دا لښکر د مکې مکرمی په لورې روان شو ، چې خانه کعبه ونړوی ، د ټولو نه غټ هاتې ئې د خپل ځان د استعمال دپاره خاص کړو ، چې دا لښکر د مکې مکرمی خواء ته وررورسيدو نو لږ هيسار شو او بیا ئې مکې مکرمی ته د داخليدو حکم ورکړو، ليکن هغه غټ هاتې کیناستو ، او مخکښې نه تللو کله چې بل طرفته ورله مخ کړو نو په تيزئ سره به تللو، لیکن چې کله به ئې ورله مخ د خانه کعبې طرفته واړولو نو کیناستلو به او مخکښې به نه تللو ، دا خلق پدې پریشانئ کښې وو ، چې الله تعالی د مارغانو یو لښکر راوليږلو چې په جهنم کښې پاخه شوو کانړو باندې ئې ويشتل ، د هر مارغه سره درئ درئ کانړی وو ، یو په مخوکه کښې او دوه په پنجو کښې ، د چنړئ د دانې په مقدار یو یو کانړی وو ، څوک چې به په کانړی ولګيدو د هغه اندامونه به رژیدل ، او بالآخر به مړ شو ، د مکې مکرمی قریش یو طرفته او بل طرفته تختيدلی وو، څوک په غرونو کښې پټ شوی وو، چې ددې غټ لښکر نه ځان بچ کړی هرکله چې ورته معلومه شوله چې د لښکر ډیر بد حال دی نو پوره په امن سره خپلو کورونو ته راغلل ، دا واقعه د نبي کريم ﷺ د پيدائش نه تقريبا (٥٠) ورځې مخکښې رامينځ ته شوی وه . **د نبي کريم ﷺ پالنه او رضاعت (تئ رودل)**:نبي کريم ﷺ د پيدائش نه پس د ابولهب وينځې (ثُويبه )ورله پئ ورکول ، ددی نه مخکښې د نبي کريم ﷺ تره حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه له ئې هم پئ ورکړی وو ، ددی وجې نه حمزه رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ رضاعی ورور هم وو ، د عربو دا طريقه وه چې ماشوم به پيداء شو نو باندو ته به ئې د پيوو دپاره ليږلو چې قوي بدن ئې جوړ شي ، او صحیح تربیت ئې وشی ، او فصيحه عربې ياده کړی، ددې مقصد دپاره نبي کريم ﷺ هم باندو ته نقل شو، په دغه وخت کښې د بنی سعد قبيلې زنانه مکې ته د ماشومانو دپاره راغلی وی ، ټولو زنانو نبي کريم ﷺ پريښودلو ځکه چې يتيم دی ، حليمې سعديې هم اول پريښودو ليکن داسی يو ماشوم ئې پيداء نه کړو چې د دوی د غريبئ بوج کم کړی ، دوباره نبي کريم ﷺ ئې په کمه مزدورئ باندی د ځان سره واغستلو ، او کور ته ئې راوستلو،حليمه د خپل خاوند سره يو کمزوری خره باندی مکې مکرمی ته راغلئ وه ، واپسئ کښې د حليمې بی بی په غيره کښې محمد رسول الله ﷺ دی ، دغه کمزوری خره تيز تيز منزل کوی، تردی پوری چې د ټولو سورلو نه مخکښې شوله ، ټولو ملګرو ورته تعجب کوو، حليمه بی بی بيان کوی چې زما سينو کښې پئ نه وو، زما خپل ځوی به هم د لوږی د وجه نه ژړل، د کله نه مې چې نبي کريم ﷺ ته پئ ورکول شروع کړل، زما په سينو کښې ډير پئ پيداء شول بيا فرمائي چې په بنی سعد قبيله کښې خشک سالی وه، د کله نه چې دا مبارک بچئ دی زمکې ته د پيوو دپاره راوستلې شو نو دا زمکه سرسبزه شوله، څاروی ساربه شول، او حالت ئې خائسته شو، نبي کريم ﷺ د حليمې سره دوه کاله تير کړل،حليمې به ددی ماشوم ډير خيال ساتلو ، دوه کاله تيريدو نه پس حليمې نبي کريم ﷺ د ځان سره کړو، او د خپل مور او نيکه خواله ئې مکې مکرمی ته راوستلو، چونکه حليمې دنبي کريم ﷺ برکت ليدلی وو ، نو د آمنه بی بی نه ئې دوباره مطالبه وکړه چې محمد ﷺ به دوباره زما سره اوسيږی .